# Global Storybooks

globalstorybooks.net

## انانسي او عقل

✎ Ghanaian folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid

This work is licensed under a Creative Commons Attribution 3.0 International License.
https://creativecommons.org/licenses/by/3.0

# انانسي او عقل

✎ Ghanaian folktale
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid
3
پښتو ps

په پخوا زمانو کې خلک په هېڅ هم نه پوهېدل. د نباتاتو د کښت کولو لارې چارې نه ورتلې، د ټوکراوبدلو هنر یې هم زده نه و، حتی په دې هم نه پوهېدل چې له اوسپنې څخه څه ډول وسایل جوړ کړي. نیام خدای چې په آسمانونو کې و او د نړۍ په اړه یې ډېره پوهه لرله، خو هغه خپل عقل او پوهه په یو ختېن لوښي کې خوندي کړې وه.



لوښی پر ځمکې ټوټه ټوټه شو. او عقل هر چا ته وړیا ورسېده. نو همدا و چې خلکو کرنه، د ټوکرو اوبدنه، د اوسپنې څخه ګټه اخیستنه او نور ټول هغه څه زده کړل چې اوس خلک یې ترسره کولی شي.

یوه ورځ، نیام پرېکړه وکړه او خپل ختېین لوښی
یې انانسي ته ورکړ. هر ځلې چې انانسي
ختېین لوښي ته کتل ډېر نوي شیان یې ترې
زده کول. دا چاره ورته ډېره په زړه پورې وه!



په ډېره آسانۍ سره هغه د ونې سر ته وخوت،
بیا نو له ځان سره یې فکر وکړ: “زه باید تر ټولو
عقل مند واوسم خو دلته زما زوی تر ما ډېر
هوښیار و!” انانسي په دې خبره دومره غوسه
شو چې د عقل څخه ډک ختېین لوښی یې له
ونې څخه راګوزار کړ.

خو هغه حریص و او له ځان سره یې دا
وپتیله، چې همدا ختېین لوښی د لوړې ونې په
سر کې پټ خوندي کړي چې دا ټول عقل د
ده شي. هغه اوږد پړی راواخېسته او ختېین
لوښی یې د خپلې خېټې پورې وتړه. او ونې ته
یې په ختلو پیل وکړ. خو ختل ورته ستونزمن
و، ځکه چې د پورته کېدو پر مهال یې لوښی د
زنګنو سره لګېده.



په دې وخت کې د انانسي کشر زوی چې د
ونې لاندې ولاړ ؤ اوخپل پلار ته یې کتل، ورته
یې وویل: “که دا لوښی په خپل شا پورې
وتړې ایا کار به دې آسانه نه شي؟” نو بیا
انانسي هم د عقل څخه ډک ختېین لوښی په
شا پورې وتړلو او بیخي ورته آسانه شوه.